# د داعشي بریدونو په تړاو څو بې ځوابه پوښتنې

زمری افغان




په افغانستان کې د داعش تر نامه لاندې وسله وال پر ډېره کمه ځمکه فعالیت لري. دوی د ننګرهار په دريو ولسواليو کې وسله وال لري، خو ويل کيږي چې په کونړ کې هم په ځينو ولسواليو کې فعال دي. د افغانستان په شمال کې د داعش مرکز درزاب و، چې وسله والو طالبانو يې پر ضد عمليات وکړل او له هغه ځايه يې د داعش ټغر ور ټول کړ. لکه چې ومو ويل داعش کمه جغرافيه لري، خو د ډېرو خونړيو او وژونکو پېښو پړه اخلي. له دې سره څو جدي او مهمې پوښتنې شته چې له خلکو سره دي او ځوابونه يې ښکاره کوي چې ددغو بريدونو تر شا څوک دي او داعش د چا پروژه ده. تر ټولو جدي او اساسي پوښتنه دا ده چې ۳۵۰ زره افغان امنيتي ځواکونه او ۱۵ زره بهرني ځواکونه چې په پرمختللو وسله سمبال دي او پراخ ځمکنی او هوايي ملاتړ لري، څنګه په دريو ولسواليو کې دوه زره داعشيان نه شي ختمولی؟ وسله والو طالبانو په جوزجان کې ۲۴ ورځې عمليات وکړل، طالبانو نه پرمختللې وسلې لرلې او نه يې هم هوايي ځواک، خو داعشيان يې محاصره کړل، ويې وژل او پاتې يې حکومت په الوتکو کې يووړل. اوس چې کله طالبان په دومره قوت سره داعش ختموي، نو امنيتي ځواکونه يې ولې نه شي ختمولی؟ يو بل بحث چې هېرول يې نه دي پکار هغه دا دی چې څنګه داعش په درزاب کې خوندي شو؟ د ملي يووالي حکومت خپلو محاصره شوو عسکرو ته هوايي ځواک نه ور ليږي، سرتيري يې محاصره وي، شپېته - اويا په يو ځل وژل کيږي، خو الوتکې د مرستې لپاره نه ورځي، خو محاصره شوي داعش ته څنګه حکومتي الوتکې پر وخت ورسيږي؟ په جوزجان کې د داعش مشر وايي: (( د ملي امنيت رييس ته مې ټيليفون وکړ او ورته ومې ويل چې موږ تسليميږو.) د طالبانو له خوا محاصره شوي داعشيان څنګه د ملي امنيت د رييس شمېره پيدا کوي او هغه هم له ځنډ پرته مرسته ورته را ليږي؟ په کابل کې څو خونړي بريدونه وشول چې پړه يې داعش واخيستله، په دغو بريدونو کې يو په شش درک کې دوې

پرله پسې چاودنې وې چې به دویمه چاودنه کې ډېرو ژورنالېستانو ته مرګ ژوبله واوښته. د برید په ځای کې لسګونه امنیتي کامرې شته، حکومت ددغه برید د څېړلو ژمنه وکړه، خو لا پایله معلومه نه ده او حکومت ولې نه حاضرېږي چې د کمرو له خوا اخیستل شوي تصویرونه له خلکو سره شریک کړي؟

دا او دې ته ورته ګڼې نورې پوښتنې شته چې ښيي داعش یوه پرژوه ده. حکومتي مشران يې د ختمولو نه اراده لري او نه هم اجازه، بلکې دوی باید غلي وي او په ځینو موارد کې باید مرسته وکړي. له همدې امله په کابل او نورو ولایتونو کې روان وحشت د سني او شیعه جګړه نه ده، په دې جګړه کې اسلامي اړخ نشته، یوازې یوه پردۍ او تپل شوې دسیسه ده چې غواړي په افغان مسلمانانو کې نفاق خپور کړي. له نیکه مرغه خلک دا دسیسه درک کوي او پوهیږي چې ددغو بریدونو تر شا څوک دي. له همدې امله سني او شیعه، هزاره او ناهزاره ټول یو غږ دي او دا جګړه خپله نه ګڼي.